## مطبوعاتي اعلامیه

## د بندیانو د حقونو د دفاع او اختطاف پر وړاندې کمپاین

د حزب التحریر۔ ولایه تانزانیا دری فعالان (استاد رمضان موشي کاکوسو، وزیر سلیمان مکالیا جاندا او عمر سالوم بمبو) له دوو کالونو زیات وخت کېږي، چې له ضمانت او محکمې پرته په زندان کې ساتل کېږي. په ورته حالت کې د نورو توقیف شویو کسانو په ګډون د اومشو سازمان علما هم له اوو کالونو څخه ډېر وخت کېږي، چې په زندانونو کې دي. همدا راز نور (مسلمانان او غیر مسلمانان) له ورته برخلیک سره لاس او ګرېوان دي. حزب التحریر۔ ولایه تانزانیا غواړي چې د دوی د حقونو د دفاع لپاره د کمپاین خبر ورکړي.

کمپاین به په رسمي توګه د ۲۰۲۰م د جون له ۱۹مې څخه د ۲۰۲۰م د جولای تر ۱۹مې پورې دوام وکړي. دغه کمپاین لاندې برخې لري:

### ۱۔ د کمپاین موخې:

### الف ۔ عمومي موخه

د لاندې موضوعاتو پر وړاندې خبرې کول او لاریونونه:

- زندانیان پرته له محکمې نیول کېږي
- مشکوک کسان د ضمانت له حق څخه بې برخې دي
- د شواهدو د تر لاسه کولو لپاره نامعلوم وخت
- د اختطاف شتون
- ترهګریز عمل

### ب ۔ ځانګړې موخه

- موږ خپل غږ پورته کوو، تر څو زموږ د فعالانو قضیه د مناسبې او یوازې د قانوني پروسې پر اساس واورېدل شي، ضمانت ورکړل شي یا هم خوشي شي.

## ۲ـ د کمپاین ساحې:

- په بېلا بېلو سيمو کې عامه اسلامي خبرې کول.
- د ټولنيزو شبکو لکه: ټويټر، فسبوک، وټسپ، وېبپاڼو او داسې نورو له لارې د مقالو ليکل، ژوندي پروګرامونه وړاندې کول، ويډيويي کلېپونه او داسې نور.
- په نورو رسنيو لکه ټلويزيونونو، راډيو ګانو، ورځپاڼو ټينګار کول، چې دغه کمپاين تر خپل پوښښ لاندې راولي او په پراخه توګه يې خپور کړي.
- د دې کمپاين عامول او د بشپړ ګډون لپاره د نورو کسانو خوځښت رامنځته کول لکه: وکيلان، روڼ اندي کسان، د بشري حقونو فعالان، مسلمان عالمان، د جوماتونو امامان، مسلمان مبلغين، مسلمان ښوونکي، ژورناليستان، سياستوال، مفکران او نور عام وګړي.
- د مدني ټولنو خوځښت رامنځته کول، په ځانګړې توګه هغه کسان چې د بشري حقونو لپاره کار کوي، تر څو په دې کمپاين کې ګډون وکړي او عام يې کړي.

## ۳. د کمپانی شعار

«د قانون له مخې له محکمې پرته توقيف، له ضمانت څخه محروميت او د شواهدو د تر لاسه کولو لپاره نامعلوم وخت ظلم دی»

موږ هيله لرو چې د ټولنې هر وګړی په بشپړه توګه په دې ستر کمپاين کې ګډون وکړي، ځکه چې اجنډا يې هر څوک په ديني يا بشر دوستانه اړخ کې رانغاړي.

**مسعود مسلم**

**د حزب التحرير ـ ولايه تانزانيا مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۱هـ.ق د شوال ۲٦مه**

**۲۰۲۰م د جون ۱۷مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۰۲**